AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۱/۱۲/۲۵

# له ځنډ وروسته تازه کلام

شمعه یم، خپل ځان خورمه لګیا یمه
ښه ده، کوم محفل ته خو رڼا یمه

بخت مې د ګلاب دی راته وګوره
هر یوه ګلچین ته په خندا یمه

ولویږم، راپورته شم؛ خو نه رسم
زه لکه نیمګړې تمنا یمه

شور د خپل زړګي خدایږو کوڼ کړی یم
دا چې ډک محفل کې غلی پا یمه

پړک به شم، ګریوان به د تیارو څیرم
زه (نعمان) له ذاته د بریښنا یمه

نعمان دوست
۱۴۰۰/جدي، ۳مه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ